AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

ولی محمد نورزی ۲۰۱۱/۰۳/۲۹

# دلیبیا د خلکو راتلونکي هیلي او د قذافي د واک آخرنی شیبي

لیبیا چه د افریقایی هیوادونو په ډله کي د مساحت له رویه څلورم او په ټوله نړۍ کي اووه لسم ستر هیواد دي. څه کم ۴،۶ میلیونه وګړي لري. د لیبیا خلک هم په مختلفو قومونو او ټبرونو باندی ویشل شوی دي. د قذافي، سیرنیکانو، فضانو، سویانو، وارفلا، میسوتا او ابوالیال توکمي او ډلی د لیبیا د قومونو انډول یو له بله سره جلا کوي. د لیبیا د دوهم لوی ښار بنګازي او د سهیلي نورو برخو خلکو، توکمونو لکه:



Photo : google

سیرینکا او د تریپولي (طرابلیس) ختیځي سهیلي برخو کی بغاوت او پاڅون د قذافي د ۴۲ کلني سیاسي او اقتصادي دیکتاتوري پر ضد خپل ږغ راپورته کړي. دغه ټبرونه او طایفی د ۴۲ کالو په اوږدوکې په سیاسې او اقتصادې لحاظ د قذافی د زورواکی او ظلم څخه ډیر سخت ځوریدلي او تره ټل شوی دي. دوی خپل د پاڅون ږغ د لمړۍ ځل لپاره د لیبیا په ختیځو برخو کي را پورته کړي او د نفت او تیلو زیرمی یی ترخپل کنترول لاندي راوستي. قذافی او دهغه زامن چه له پخوانه یي د ملی فوځ، پو لیسو او هوایي قواوو باندي پوره واک درلودي. دوی د تیلو او ګاز و د ملی شرکتونو ټولي زیرمي په خپل لاس کی نیولی دي. ددی زیرمو لویه پانګه یی د خپلو خوښو ملا تړو بورژوازانو او ځایی خانانو تر واک لاندی وه، چه دوی به د خپل ټول لګښت او اړتیاوي د پوره کولو سر بیره یوه لویه برخه په خپل سر په ځانګړۍ توګه په میلو او چړچو مصرفولي او هریو یی د خپلی علاقی او سیمي د ټبر مشر او سردار وو.
په ۱۹۹۳ کال کی چه پر لیبیا باندي اقتصادی محاصره اعلان شوه. نو ددغو سیمو خلکو د قذافي د حکومت پر ضد خپل پاڅون اعلان کړي ولی ډیر ژر د قذافي ظالم رژیم په ډیري بی رحمی سره هغوي وټکول، او دسر مشران یي چار ماری کړل او په سلګونو نوریي بیا د جیل او زندان د تورو تیاروغارو ته ور وغورځول چه ځنی یی تراوسه هلته دي.

لکه څنګه چه مخکی مي وویل چه د لیبیا هیواد د قومونو د توکمونو انډول خپل تاریخی اختلافي جرړی لري، او ددی قومونو د انډول اصلی ریشه د پخوا نه موجوده وه، ولی اوس یی د زورواکي تله د نړیوال ښکیلاک د ټولی سیمي د سولی او جګړي په منځ کی پورته او کښته کیږي، او هر یو خپلی بیلی بیلی ګټی او ښیګڼي پکښی ویني.
کوم وخت چه د تونس او مصر د خلکو ملی پاڅون د بن علی او حسنی مبارک فولادی دیوال ړنک کړي او دغرب دغه ټینګ ملا تړي تش په نامه د خلکو چارواکو نور د خلکو د سپیڅلی نوم څخه خپله ګټه او د حکومت د چارواکی او زورواکي لړي یي نوره نشوای پر مخ بیولاي نو دیته مجبوره شول چه واک پریږدي او دخپل هیواد او خلکو نه پښی سپکی کړي. دا چه په دی لاره کی کورني او بهرنۍ لاسوهنه موجوده وه او که نه، خو په عمومی توګه ویلای شو، چه ددغو دیکتاتورانو را پرځول د خلکو په منځ کی د خپلواکي او آزادی لاره ومونډله او د یوه شخص او یوه چارواکی د اوږده او پرله پسی حکومت واک یي د تل لپاره له منځه یووړي. چه دا په خپله په دي پیړي کی د عربو هیوادونو د ازادی، مساوات، عدالت او انتخابي بهیر لمړنی بر یاوی دي چه په خپل لاس او زورلاس ته راغلي. دا چه دوی به په راتلونکي خپله انتخابي رایه څنګه کاروی دا بیا په خپله په دوی پوری اړه لري. چه خپل راتلونکي ژوند څنګه وټاکي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د لیبیا مشر محمرالقذافی ۴۲ کاله مخکی د یوي فوځی کودتا په وجه واک ترلاسه کړي او تر نن پوري یی خپل دریځ کله دغربیانو ټینګ ملاتړي او کله دښمن، کله دعربی هیوادونو د اولس واکو ملګري او کله سیاسی سیال کله د تروریزم رهبر او کله بیا د ازادي غوښتونکو هیوادو همغاړي پاته شوی دي. قذافي د افغانستان د مجاهدینو سره په وار وار د روسانو د یرغل په وخت کی نغدی مرستی کړی دي. او د عربی هیوادو په ډله کی د لیبیا څخه د قذافی په مشوری یوه ډله د مجاهدینو سره د مرستي په منظورد پاکستان او افغانستان خاوری ته ولاړل، او جګړه یي د اسلامی جهاد په نامه د شوروی طرفداره افغانی حکومت په مقابل کی د افغانی مجاهیدونو سره یوځای پرمخ بیوله.

قذافی د خپل هیواد پر ټولو خلکو باندی یو شانته د پیر زویني حکومت نه دی کړي. دده رژیم د خپلی قذافی او نورو اشرافی توکمونو سره د ښو مرستو او همکاریو جلا جلا اړیکي او د نورو ټبرو سره چه دده ګټه به پکښی نه وه بالکل بیلی بیلي اړیکي لرلي. قذافی د لیبیا د ټولو وګړو تر نیمایی زیاتو د تائید وړ کس نه دي. ولی دده د ډلی او قومي اشرافیانو د هر ډول ملاتړ څخه برخمن دي. زما د تحصیلی دوری یوهم ټولګی شل کاله مخکي چه په خپله د عراق وو، د کار لپاره لیبیا ته تللی وو او بیر ته د راتګ په وخت کی یی ما ته د لیبیا د خلکو د ژوندانه د ختیځو او سهیلی برخو کیسه داسی وکړه:
د لیبیا ددی سیمی خلک کوم چه د قذافي په ډلی پوری اړه نلري، ډیر غریب، بیچاره او بی وزلی دي. دوی خپل ږغ د چارواکو مخ ته نشی رسولاي. تعلیم او تر بیه په ډیره کښته کچه پرمخ ځي د عادی ژوند سطح او د ژوندانه د ضرورت لمړني اړتیاوي په ډیره ټیټه سطحه پر مخ تللي، د یوه ښار او بل ښار د مدنیت او پراختیا آسانتیاوی یو له بله سره ډیر توپیر درلودي. د حق او عدالت د قضا اداره د قانون رعایت نه کوي او بیروکراسی خپل اخرنی سرحد ته رسیدلی ده. د نسلونو او قومي برابر والي یو شانته نه دي.
قذافی د عربی هیوادو د رهبرانو د ډلی نه د یوه افراطی، عیاش، بد اخلا قه رهبر په توګه مشهور دي. څلویښت پیيغلی نجوني د باډیګاردانو په توګه اوکرایني ښایسته داکتره د روان شناس په توګه او د نړي نوری ښایسته نجوني د مساژیست په توګه په ډیرو لوړو تنخواه ګانو سره خپله دنده پرمخ بیایي او دده په حرم سرای کی شتون لري او هلته اوسیږي. ددی ټولو نا خوالو سربیره د عیش او نوش په دی ځانګړي نړي کی قذافی د نورو غربی هیوادونو تر ټولو ښکلي نجونی لیبیا ته راغواړي او د میلمه پالني پر لیکه د راتګ په وخت کی ورسره نغدی ډالری مرسته کوله. چه یوه بیلګه یی پروسږ کال د ایتالیا هیواد د ۷۰ ښکلو نجونو ځانګړی دعوت وو، چه د نړي د تلویزیونونو په هنداره کي هرچا دا نندار وکتله او ویی لیدله. د قذافی دا ناوړه عمل د یوه مسلمان هیواد د مشر په توګه د زغمولو وړ نه دی. او د شرم او حیې لویه بدنامی ده. قذافی د خپل هیواد د ملی پانګي څخه د نړي په شتمنو هیوادو کي لکه امریکا، ایتالیا، کانادا، سویس، انګلستان، فرانسه، جرمني، هند او نورو هیوادو کي شخصی جایدادونه، زینتي ښنګلی، او د استوګنځی ښکلي ماڼی رانیولی دي چه تخمینی بیه او ارزش یی د سلو میلیاردو ډالرو په شا وخوا کی دي چه دا ټوله د لیبیا ملی پانګه ده، ولی دا دده دعیش او نوش خرچه ده.

د مصر د انقلابی پاڅون د برۍ وروسته سمدستي په لیبیا کی حالات کړکیچن شول. د قذافی مخالفی ډلی د بنګازی غټ ښار په خپله قبضه کی راووستي او ډیر ژر په پرله پسی توګه پرمخ تګ د نورو ښارونو د نیولو لپاره شروع شو. داسی معلومیده چه مخالفین به د ترپیولی (طرابلس) ښار ډیر ژر تر خپلي ولکی لاندي را ولي، ولی د قذافی پیسو او د سکتوریزم د قبیلو او ټبر اشرافی ځایی چارواکو د مخالفی ډلی د پاڅون لاره په ټپه ونیوله. قذافی د پیسو او ډالرو په زور د افریقایی وړو هیوادونو لکه : چاد، انکولا، ایتوپیا، نایجریا، سومالی او نورو هیوادو اجیر مزدوران د نغدو پیسو په مقابل کی دخپل اولس د ځپلو او د ځان د ساتلو لپاره و ګمارل. دوي ته یی هره ورځ د ډالرو ډکي کڅوړي ورکولي. دوي د قذافي څخه ډول ډول سلا ګانی، جنګي ټانکو نه، کلا شینکوفونه او مرمي او درنی او سپکی وسلی اخیستلي. دغو مزدورو اجیرانو د قذافي د فوځیانو سره په ګډه په ډیري بیرحمی سره د بنګازی شاوخواه ښارونه لکه : سورت، زیلتان، البیدا، صبرانه، غوریان او د لیبیا د نورو سیمو پر خلکو باندی د اور داسي لمبي خپری کړي چه هره ورځ به د بیګناه لیبیا یي مسلمانو مړي پخپل ښار او په خپل کور کی د بیګانوو له لاسه تر خاورو لاندی کیدل. قذافی او زامن به یی د غربی هیوادو په تلویزیونو کی خپلی مصاحبی کولي او د خپلی زور واکی او جاه طلبي د خوبونو ټالونه یی اوږده ول. دوي داسی انګیرله چه ډیر ژر به د لاسه وتلی ښارونه بیرته لاس ته راشي او د قذافي رژیم به خپلی چړچي او میلي کوي او د بنګازی مخالفین به جزأ ویني.
د ملګرو ملتونو ټولنی د امنیت شورا د لمړی ځل لپاره په یوه آواز بیله کومی مخالفي رایه فیصله وکړه چه د لیبیا مشر باید د خپلو خلکو د وژني او ظلم څخه لاس واخلي او د هیواد په کچه د ټولو خلکو و حقوقو او غوښتونو ته دي غاړه کښیږدي.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ولی د لیبیا مشر قذافي او زامن یی د خپلی سر ټنبي پر لیکه د خپل هوډ نه تیر نه شول او د لیبیا د بیګناه خلکو وژلو ته یی ادامه ورکړه. د قذافی افراطی ډلي او مزدورو قواوو هره ورځ خپل خلک ټکول او وژل او په دی لاره کی یی هیڅ سپما نه کوله.
د بنګازی اوسیدونکو د ټولی نړي خلکو ته د مرستي او لاس نیولو چیغي او ناری وهلی او په دواړو لاسو یی د خدای تعالی څخه د الهی مرستی دعاوی کولی تر څو ددی کرغیړن ویر او ماتم څخه ځان خلاص کړي. او پر خپل کور د دیکتاتور رژیم قربانی نشي.
امریکا او غربی نړۍ هم خپل هدفونه لري او د قذافی د حکومت واګي دوی ته نور د قبول وړنه دي. دوی نور د خپل پخواني ملاتړ قذافی ملتیا نه کوي او دهغه پر ځاي د مخالفي ډلی سره خبری کوي. د دوی ګټی د تیلو او نفتو په ذخیرو پوری تړلی دي نه په بل شی.
د امریکی، فرانسی او د ناتو د نورو هیوادو هوایی حملی د ًقذافي د دیکتا توری رژیم د له منځه وړلو لپاره د لیبیا د اکثرو خلکو په ګټه هغه وخت تمامیږي چه دا ولس واک د یوه ازاد او انتخابی کمپاین له لاری بیله کومه شرطه د اولس په لاس کی ورشي. هر څومره چه قذافی او دده خونخواره ډله ژر له واکه لیره شي هغومره به د لیبیا د خلکو په ګټه وي. دا ځکه چه نور د سیمی عربی نړي، غربی او شرقی نړي د قذافی د واک اوږدیدل نه غواړي. قذافی باید د خپلو خلکو د حقوقو د سر غړوني په وجه د ظلم ، ناتار او جبر لرویه په لیبیا کی په علنی ډول سره محاکمه شي . تر څو د خپلو خلکو دویر او غم څخه د دوی په وړاندي په ژوندی ډول سره د غور او تحقیق پروسه پلی کړي او جزأ ووینې. د قانون او عدالت په منګولو کی د قذافی راکښول ضروری او حتمي ښکاري.
د لیبیا خلک باید نور د خپل راتلونکي هیواد سوکالي او ارامي لپاره د ټولو قومونو، ټکمونو ډلو ټپلو ته په یوه سترګه وګوري او خپلي شخړي په خپله اواري کړي.

پاي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ